






د مجیب الرحمن « خطیبي » لیکنه
د نشر نیټه : ۲۳ جولای ۲۰۱۳ میلادی

# شینکۍ

زموږ پخوانی کلی کې
څه چینې
څه ویالې
څه ځکمې
څه پټې
څه بڼونه
څه ګلونه
څه سیندونه
څه بلبلان
څه بوراګان
څه پتنګان
څه خانان
څه ځوانان

چې

نه درلودل
بس هره خوا
خوښۍ خوښۍ وه

خندا خندا  وه

دا ځکه چې

د قلم ځای

توپك نه وه نیولي

چې د خندا ځای

ژرا نه وه نیولي

چې د لوبو ځای

قصاص  نه وه نیولي

خو اوسنی کلی ته راشه

هره خوا پردي پردي دي

هره خوا
چپتیاچپتیا ده
چینې وچې
ویالي وچې
ځمکې وچې
او دهر ځوان
په لاس کې
توپك دبره
یا برچه ده
خلك ظالم شوي
په ډیر بې رحمی
شینکې ولي

هو!
شینکی !

دا هم
زموږ د کلی ده
ماته خو
هوښیاره ښکارکیده
خود نورود سترګو خار وه

زه پری مین وم

خود نورو بدیده

د ګلی ظالمانو

په ډبرو ویشته

او خواره کی

له سهاره

ترمابنامه ژړیده

او زما څنګ ته

هرو مرو راتله

پوهیږې ؟

چې دا څوك ده ؟

دا د پخوانی کلی

هغه زړه شوې پیشو ده

چې

اوس هم دردونه وینی

او غمونه ګالي

*****

مجیب الرحمن « خطیبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org